دلوي او بخښونکی خدای (ج) په نامه

ګرانو او محترمو ملګرو، دوستانو اجازه راکړئ چی دافغانستان د ترقی غوښتوونکو دموکراتو ګوندونو او سازمانونو ایتلاف د نوبتی دوری دهغه دروند مسوولیت په تسلیموولو او قبلولو کوم چه د هیواد دتاریخ په دی حساسو او نازکو شیبو کی چه واقعاً ډیر دروند او اعظیم مسولیت دی. دایتلاف دریسه هیت دغړو څخه مننه وکړم.
دوستانو:
زمونږ ګران هیواد افغانستان دخپل تاریخ دیری حساسی او خطرناکی – تباه کوونکی او هم په عین حال کی جوړونکی شیبو څخه تیر شوی اوتیریږی.
دا تاریخی شیبی نه یوازی زمونږ د هیواد د موجوده خلکو برخلیک، بلکه د نسلونو د برخلیک مسله په کی هم نغښتی ده.
نو ځکه باید زمونږ د ګران هیواد تول مترقی- دموکرات – تحول طلب او سیاسی احزاب، مدنی ټولنی، واقعیت پسنده لیکوالان اوتاریخ لیکوونکی د هیواد د اوسنیو نازکو حالاتو په نظر کس نیولو سره د تاریخی موضوعاتو، حقایقو او واقعیتونوپه رنا کی، مسائیل ترڅیرنی، تحلیل او ارزبابی لاندی ونیسی.
څرنګه چه زمونږ ګران هیواد افغانستان د آسیا په زړه کی قرار لری، او دیو خاص جیوپولتیک او استراتیژیک موقعیت لرونکی دی، چه د دی خاص موقعیت د اهمیت په اساس د تاریخ په اوږدوکی دنړی د سترو متجاوزو، اشغالګرو او استعمارګرو قوتونو د خپلوناپاکو او شومو اهدافو د لاسته راوړو په خاطر څو څو ځلی مستقیماً تجاوز او تیری کړی او زمونږ د خلکو د مادی او معنوی شتمنی ئي د خاورو سره خاوری کړی او حتی په دی تیرو څو لسیزو کی زمونږ هیواد د ویجاړونکو او تباه کوونکو جګرو په دګر بدل شوی دی.
خو د دی جګرو په جریان کی دا ناممکنه ښکاریده چه د عواقبو لرلید دی داسی اتکل شوی وای لکه څنګه چه واقع شو.
خو په دی ټولو خونړیو او تباه کونکو جګرو کی یوه تاریخی او ښکاره حقیقت دا و چه زمونږ قهرمان ملت او با غیرته قومونو او اولسونو همیشه په تاریخ کی ورپیښ شوو مشکلاتو په مقابل کی د ملی یووالی په روحیه او د خپل ملی غرور چه افغانانو ته په میراث پاتی شوی په دیره حوصله مندئ – ایمانداریٔ- قهرمانیٔ او د خپلو سرونو په بیه مقابله کړی او هر یرغلګر او استعمارګر طاقت ته ئي داسی تاریخی شکست او ماتی ورکړی چه د بشر په تاریخ کي ئي مثال دیر کم په سترګو کیږی.
دوستانو: د تاریخ او سیاست علماء او پوهان داسی نظریه وراندی کوی چی هر څومره د یو مملکت تاریخی قدامت زیات وی په همغه اندازه د هغه مملکت سیاستمدارانو، روشنفکرانو یعنی د نخبه ګانو سیاسی تجربی هم زیاتی وی. خو بدبختانه مونږ هیڅکله د تجربو خاوندان نشو او د تیرو تجربو څخه مو هیڅ عبرت وانه خیست. بالخصوص په دی تیرو ځه باندی دری لسیزوکی که مونږ خپل تیر سیاسی تاریخ ته ځیر شو نو دی نتیجی ته به ورسیږو چه با وجود د مثبتو کارونو یو لړ منفی او ناسالمو اعمالو سرته رسولو شاهدان هم یو.
په جنبش کي د فرکسیونو رامنځته کیدل، جاطلبی او خود خواهی – یو پر بل باندی د ناروا تهمتونو لګول – د صلیقوی روش رواجول ....... او داسی نور.
دا هغه منفی فکتورونو د جملی څخه یو لړ فکتورونه دی چي د یو سیاسی جنبش او بهیر لپاره نه جبرانوونکی زیانونه رسوی .

اوس هم یو تعداد اشخاص سیاسی گروپونه ډلی او ټپلی په داسی یو مهلک او خطرناک ویروس اخته دی چي ځان تری نشی خلاصولی چي دا ویروس مودی ته نه پریږدی چي د یو واحد سرتاسری سیاسی ځواک خاوندان شو.
څرنګه چي تیرو تجربو وښودله چي په یواځی ځان او یا واره واره سیاسی ګروپونه هیڅکله نشی کولی چي د افغانستان په سیاسی، اجتماعی او بنیادی تحولاتو کي خپل ملی او تاریخی رسالت په درسته توګه سرته ورسوی.
یوځل بیا تکراروو چی د یو پراخ سرتاسری جنبش څخه پرته هیڅ کوچنۍ روشنفکره سیاسی ډله د افغانستان په سیاسی چارو او سرنوشت جوړونکو پروسو کی د مخکښ رول د ادعا کولو جرئت نشی کولای.
د سری جګړی پای ته رسیدل، داخلی، منطقوی او جهانی شرایطو په نظر کي نیولو سره د مروجی غربی دموکراسی یعنی په دی معنی چه نورنو کودتاګانی- وسله وال قیامونه په جهانی سیستم کی یو ناروا عمل شمیرل کیږی.
او سیاسی قدرت ته د رسیدو په خاطر یواځنۍ لار خلکوته مراجعه یا درجوع لار ده یعنی د ټولټاکنو لار ده.
پس د ټولو سیاسی ګروپونو – سازمانونو او دموکراتانو لپاره یواځنۍ بنیادی مسئله د یوالی او په یو واحد سیاسی سنګر کي راټولیدل دي.
دا یو تاریخی منل شوی حقیقت دی چي سیاسی وحدت د ملی وحدت لپاره بنیادی او ټاکوونکي ارزښت لری بالخصوص هغه سیاسی ګروپونه او سازمانونه چي په تیرو څولسیزو کي خپل مادی او معنوی ارزښتونه د لاسه ورکړی باید د بل هر چا څخه زیات په دی هکله ژور فکر وکړی.
د ملت جوړونی په لحاظ افغانستان د یو داسی جنبش جوړولو ته ضرورت لری چی د چپ او راست افراط څخه لری وساتل شی.
څرنګه چي د بشر تاریخ دا ثابته کړی ده چي سیاست یوه لایزاله تاریخی پدیده ده نو د یو سرتاسری سیاسی ځواک رامنځته کیدلو لپاره وحدت او یوالی عمده او بنیادی مسئله ده چی دسرتاسری سیاسی قوی ځواک رامنځته کیدل او یا نه رامنځته کیدل چي دا بیا سیاست او سیاسی قدرت لپاره د مرګ او ژوند په معنی تعبیریږی.
نو په همدی اساس د افغانستان د موجوده حساسی او نازکی وضع یعنی سیاسی، اجتماعی، اقتصادی، نظامی شرایطو په نظر کي نیول سره او هم په هیواد کي د یو سرتاسری قوی سیاسی ځواک نه موجودیت د دی باعث شو چي د افغانستان د ترقی غوښتوونکو ، دموکراتو ګوندونو او سازمانونو ائتلاف د روان کال 1391/1/6 په کابل کي جوړ او رامنځته شو.
ترڅو د پورتنی هدف او آرمان یعنی په هیواد کي د یو قوی سرتاسری سیاسی ځواک د رامنځته کیدو په خاطر خپل تاریخی رسالت ترسره کړی.
ائتلاف به د ټولو اسلامی، ملی، تاریخی، او فرهنګی ارزښتونو څخه ملاتړ او دفاع وکړی او هم به ائتلاف کوشش وکړی چی پخپل منځ کي صداقت، یو پر بل د اعتماد په روحیه او باور او هم د هیواد د ټولو سیاسی احزابو او سازمانونو سره د تفاهم او د اعتماد د فضاء د رامنځته کیدو لپاره خپلی هلی ځلی چټکی کړی.
یوځل بیا ائتلاف په ټولو سیاسی احزابو – سازمانونو – ترقی غوښتوونکو – دموکراتانو – تحول طلبو انسانانو غږ کوی راځئ د خپل هیواد د موجوده کړاونو بدبختیو ته د پای ټکی د ایښودو لپاره د خپل تاریخی رسالت د سرته رسولو په خاطر د افغانستان د ترقی غوښتوونکو، دموکراتو ګوندونو او سازمانونو د ائتلاف سره د هم غږۍ او تفاهم د لاری د یو سرتاسری سیاسی ځواک د رامنځته کیدو په لار کی څپله تاریخی ونډه پرځای کړی.
و من الله توفیق